آصف بهاند ۲۰۲۶/۰۳/۲۱

# سورپسرلی

بیا کال رانوی شو

خو داخلي يي رنگ اوښتی

شنیلی يي ورک دی، هرڅه سره ښکارېږي

خلک حیران نهدي

پوهېږي چي دا ډېرعمر زموږ پروطن

د اوبوڅاڅکي نهراوري

او د وینوباران نهدرېږي

دا دی هماغه څاڅکي ـ څاڅکي ويني

اوس سیلاو شوي دي

هرڅه يي راسره کړي دي

نو ځکه پسرلی هم سور دی

۲۰۲۶/۰۳/۱۸
هیدرسلیف
ډنمارک

د لیکوال نوري لیکني په لاندي لینک کي لوستلای شئ:

http://afghan-german.com/tahLiLha/EditAutor.aspx?95



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنيزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په ځیر و لولـئ